بسم الله الرحمن الرحیم

## د انسانیت مفکوره یوازې په اسلام سره بشپړېږي

یو مسلمان ډېر ځلې تورنېږي چې د غیر مسلمانانو پر وړاندې د تېري او کرکې لید لري او د هغه چا پر وړاندې د کینې یا دښمنۍ دود پالي چې د دوی له دین او عقیدې سره تړاو نه لري، د دې تورونو د ثابتولو لپاره د مسلمانانو له هغې کرکې څخه یادونه کېږي چې د کفر پر وړاندې یې لري(په ځانګړې توګه د یهودو پر وړاندې)، له صلیبي جګړه مارو سره د مسلمانانو دښمني او همداراز له هغې کرکې څخه هم یادونه کېږي چې مسلمانان یې له مشرکینو څخه په ټولو وختونو کې د کافر غرب تر زمانې پورې کوي، چې تر ټولو مخکې او په لومړي سر کې یې امریکا او اروپا ځای لري!

همداسې بله ډله را پورته کېږي ترڅو د دوی ځواب ووایي، دوی ځانونه د اړیکو رغونکي ګڼي او په ډاډ سره دا تاییدوي چې د اسلام دین د مینې او سولې دین دی او هیڅ هغه مسلمان چې د خپل دین په اړه پوهېږي د دې جرات نه کوي،څو له هغو انسانانو څخه کرکه یا نفرت وکړي چې انسانیت خپروي.

په دې ډول د دوو ډلو تر منځ یوه اوږده مناظره پیلېږي؛ دوې د حملې او د دفاع ډلې، ترڅو د مسلمان شخصیت وټاکي او بیا یې په رڼا کې ده ته د ښه یا بد چلند امتیاز او نمرې ورکړي، د دې لپاره چې د یو مسلمان ازموینه واخلي، دی له هغو پوښتنو سره مخ کېږي چې یا د ده له عقیدې سره اړخ لګوي او یا یې پر ضد دي او په یو ځانګړي صندوق کې یې ږدي. یوه ډله چې د مسلمان د شخصیت په غندلو کې مبالغه کوي او مسلمان ته ترهګر او تندلاری وایي او بله ډله چې د مسلمان د شخصیت په اوبولو کې دقت کوي، هغه ویلي کوي او یو سولییز او زغم لرونکی کس یې معرفي کوي...

په پای کې بحث د هغو په ګټه پای ته رسېږي چې ځانونه سمون پالي او معقول معرفي کوي او غوښتنه یې دا وي چې ګروهه (عقیده) باید څنډې ته کښېښودل شي ځکه عقیده داسې څه نه ده چې د انسانانو ارزښت پرې اندازه شي، کنه نو دا د دې لامل کېږي چې د دوی تر منځ تربګنۍ رامنځته شي او تاوان پېښ کړي، دوی وایي، نو راځئ اجازه ورکړو چې له ژوند څخه د دین جلاوالی یو اساس وګرځي او هر څوک که د دې هیله لري چې په خپل مذهب عمل وکړي اجازه ورکړئ چې همدا کار په فردي ډول تر سره کړي، نه د یو ډلې په توګه. ځکه کوم څه چې دغه ډله سره نښلوي هغه د ورورولۍ او انسانیت اصول دي په داسې حال کې چې مذهب یې سره جلا کوي!

نو، ایا یو مسلمان ته دا روا ده سره له دې چې د احکامو له تر ټولو زیاتې کاملې ټولګې سره ژوند کوي، بیا هم د وروسته والي او حقارت په مقام کې پاتې شي، داسې احکام چې الله سبحانه تعالی د ټول انسانیت لپاره بشپړ او کامل ګرځولي دي؟ ایا دی له خپل ځان څخه په دې خوښ دی، چې دی تر ټولو ښه دین او تر ټولو لوړ پیغام له ځان سره لري، خو بیا دې هم مسلمان د ارزونې او ټولپوښتنې موضوع وي، مسلمان هغه څوک دی چې الله سبحانه تعالی داسې جوړ کړی، ترڅو له خلکو څخه دی تر ټولو غوره (وسط) وي او د قیامت پر ورځ پر دوی شاهد و اوسي، ځکه دی د محمد صلی الله علیه وسلم له امت څخه دی؟!
ابن کثیر د دې آیت شریف په تفسیر کې لیکي:

**﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً﴾**

**[البقره:۱۴۳]**

ژباړه: *او په دې ډول موږ تاسو یو منځنی امت (امت وسط) ګرځولي یاست تر څو تاسو پر نړیوالو (نورو خلکو) شاهدان و اوسئ او پېغمبر پر تاسو شاهد و اوسي*

الله سبحانه تعالی تشریح کوي چې ده سبحانه تعالی زموږ قبله د ابراهیم علیه السلام قبلې ته واړوله او دا قبله یې زموږ لپاره وټاکله ترڅو موږ تر ټولو غوره ملت وګرځوي. په دې دول به موږ د آخرت پر ورځ پر نورو ملتونو شاهدان و اوسو او دوی ټول به زموږ د پرهیزګارۍ او تقوا تایید کوي. د وسط لغت په دې ایت کې د تر ټولو غوره او د احترام وړ مانا لري. ځکه یې داسې ویلي چې قریش(د پېغمبر قبیله) د عربي قبیلو او سیمو په وسط یا منځ کې شتون درلود، مانا تر ټولو غوره. همدا راز یې ځکه دا ویلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو خلکو په وسط یا منځ کې وو مانا د عربو په منځ کې له تر ټولو غوره قبیلې څخه وو. دا چې الله سبحانه تعالی دا امت (مسلمان ملت) وسط ګرځولی دی، نو ځکه یې دا امت په تر ټولو کامل شریعت، غوره منهج یا تګلارې او څرګند مذهب (کړنلارې، اخلاق او نورو) نازولی دی. (د نقل قول پای)

د مسلمان ځانګړی خاصیت دا دی چې له الله سبحانه تعالی سره د ده اړیکه او له الله سبحانه تعالی سره د ده ارتباط هغه معیار دی چې له نورو خلکو او د ده شا وخوا ته له انسانیت سره د ده اړیکه ټینګوي. نو هر څومره چې یو مسلمان خپل رب ته نږدې کېږي په هماغه کچه دی د دغې عقیدې ستروالی احساسوي، په کومه عقیده کې چې دی پر دې باور لري چې دی د خپل رب، خپل امت او ټول انسانیت پر وړاندې لوړ مسولیت لري، ترڅو دغه دین ټولو هغو سیمو ته ولېږدوي چېرې چې ورځ او شپه رسیږي ځکه د خلکو لپاره تر عقیدې ستره ښېګڼه نشته! د الله سبحانه تعالی پر وړاندې د سجدې سر ټیټول او الله سبحانه تعالی ته ژړل، خاکساري او اطاعت کول تر

هغو پورې، چې اوښکې ستا مخ او زړه دواړه وينځي او بيا ته نيکمرغي او سکون احساس کړې، په دې کيفيت له يو مسلمان پرته بل څوک نه شي پوهېدلی!!! خپلې پيسې د صدقاتو لپاره ورکول او تر ځان صدقاتو ته لومړيتوب ورکول ترڅو په ګوښه څنډه کې وخاندې بيا د سکون او رضايت احساس کول هغه څه دي چې يوازې يو مسلمان يې درک کولی شي!

د خپلو والدينو درناوی کول، د خپلې مور پښې ښکلول او د هغې رضايت غوښتل او د مور له لوري ستا لپاره د ښېګڼې دعا کول ټولې هغه ښېګڼې دي چې له يو مسلمان پرته بل څوک په دې ډول ښېګڼو کې ژوند نه کوي!

او د دغه دين لپاره په زندان کې لوېدل، شکنجه کېدل او د ظلم پر وړاندې د الله سبحانه تعالی د رضايت لپاره صبر کول، له الله سبحانه تعالی څخه غوښتل چې دا هر څه ورڅخه قبول کړي او بيا د وياړ احساس هغه څه دي چې يوازې يو مسلمان يې په اړه پوهېږي!

د حکامو پر وړاندې مبارزه کول او د دوی پر وړاندې درېدل پرته له دې چې خپل کمزوري او د سرچينو کموالی په نظر کې ونيسي، دا هغه مقام دی چې يوازې مسلمان پرې پوهېږي! د دې لپاره چې د دې دين د بيا را ژوندي کولو لپاره کار وکړي ستړيا او د نورو ناوړه خبرې له پامه غورځوي، نو د ټولو هغو غمونو پروا نه لري چې دی يې له هر لوري را چاپېره کړی، دا هر څه پر الله سبحانه تعالی د لوړ ايمان نښه ده چې يوازې مسلمان پرې پوهېږي!

دا چې د خپل رب د احکامو تر سيورې لاندې ژوند وکړې او په حاکميت، قضا، ټولنيز ژوند او اقتصاد کې يې پلي کړې ترڅو رښتنولی، عدالت، رښتنی ژوند او روحي خوښي تر لاسه کړې، د سترګو ليد او د ځمکې روښنايي يې د خپل رب په نور سره وځلېږي، دا هغه وياړ دی چې يوازې مسلمان يې درک کولی شي!

په ژوند کې ډېر حالتونه شته چې د مسلمانانو په توګه موږ ورسره مخ کېږو، ښه احساسات، خوښي، هوسايي او خوشحالي چې په ميليارډونو انسانان په کايناتو کې ترې بې برخې دي. هغه احساسات چې تر ماده پرستۍ او د غذا تر خوړلو، جامو اغوستلو او غرايزو تر اشباع لوړ دي، دا د سترې خوشحالۍ هغه احساس دی، چې يو کس يې هغه مهال تر لاسه کوي کله چې دی خپل رب په پوره او سم ډول راضي کړي، دا هغه څه دي چې غير مسلمانان ترې بې برخې دي.

د مسلمان اصلي حالت دا دی چې دی د خپل ځان او نورو لپاره ښېګڼې وغواړي او له دغه ځايه څخه د ده د دين د حمل، پلي کولو، په دين باندې د ژوند کولو او ټول بشريت ته يې د لېږدولو لپاره د ده رول پيليږي، ترڅو دغه ښېګڼه تر لاسه شي او دغه خوشحالي او هوسايي لاس ته راوړي او دا د الله سبحانه تعالی کلام دی.

**﴿وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [العمران:۱۰۴]**

*ژباړه: په تاسو کې باید څه خلک هرو مرو داسې وي چې د نېکۍ لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بدو منع وکړي. کوم خلک چې دا کار وکړي همغوی به بریالي شي.*

څومره ښه دی اسلام! یوازې اسلام دی چې مسلمان ته یې دا انګېزه ورکړې ترڅو دغه خوشحالي او دغه رضایت او ښېګڼې هر انسان ته ولېږدوي او اسلام مسلمان ته انگیزه ورکوي چې د هدایت، تقوا او رښتولۍ سره مینه ولري او په دې نړۍ او اخرت کې یې د ټولو خلکو لپاره وغواړي. موږ د غیر مسلمانانو لپاره د دوی د ګمراهۍ او بدمرغۍ له امله د همدردۍ احساس لرو. دا ښېګڼې د دعوت او جهاد، سیاسي او فکري مبارزې، د دروغو په لمنځه وړلو او د بې ایمانۍ پر وړاندې د جګړې له لارې لېږدول شوي دي، د هغه چا پر وړاندې له لاس پورته کولو او څواک څخه کار اخیستل شوی چې زموږ دښمني یې کوله، په دې ډول یو مسلمان خپل ژوند قرباني او شهید کړ تر څو نور د کفر له منګولو وژغوري.

پر همدې بنسټ د انسانیت مفکوره یوازې په اسلام سره بشپړېږي چې خلک له تیارو څخه د روښنایۍ لور ته را بولي او د ټول بشریت لپاره نېکمرغي له ځان سره لېږدوي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: نسرین بزحفیري**